نېټه: د ۱۳۹۵ کال د غوايي ۱۱ مه

مطبوعاتي خبر

په هېواد کې د ناامنيو او جنائي پېښو د زياتېدو په تړاو مدني ټولنې د همغږۍ مرکز اعلاميه

د رسنيو قدرمنو استازو

وړمه ورځ ۱۴ کلن تنکی ځوان اباسين ځاځی چې پنځه مياشتې وړاندې سړي‌تښتوونکو د هغه له کورنۍ څخه د پيسو د شوکولو په موخه تښتولی و ، په ډېره بې رحمۍ شهيد شو. د دغه خبر له خپريدو سره سم د افغانستان د ملي امنيت اداري وويل چې د هغه د تښتول‌کوونکو ډله يې نيولې ده. دا د خپل ډول لومړنۍ او يواځينۍ پېښه نده ؛ امنيتي چارواکي اعتراف کوي چې هره ورځ شاوخوا پنځوس جنايي پېښې يواځې په کابل کې کېږي او دا کچه ورځ تر بلې د زياتېدو په حال کې ده چې دې چارې ټول هېوادوال او د مدني ټولنې د همغږۍ مرکز په جدي ډول اندېښمن کړي دي.

د مدني ټولنې د همغږۍ مرکز په دې نظر دی چې د دغو پېښو د زياتوالي په عمده عواملو کې اداري فساد ، زورواکي او فاسد سياسيون ، فرهنګي او کلتوري يرغل ، د ناقانونه وسلو او غيرمسؤلو وسله‌والو شتون او غربت او بېکاري په ترتيب سره د پام وړ دي.

د مدني ټولنې د همغږۍ مرکز د خپل رسالت او وظيفې له مخې په دولت د لاندې چارو د ترسره کولو غږ کوي:

1. له حکومت څخه غواړي چې د شهيد اباسين د قضيې ټوله مرحله په شفاف ډول په هره مرحله کې له رسنيو او خلکو سره شريکه کړي او د دغه جنايت عاملينو ته په علني محکمه کې اشده سزا ورکړي.
2. حکومت بايد د هر ډول جنايي پېښو د مخنيوي په موخه ، په امنيتي او عدلي او قضايي ارګانونو کې د اداري فساد د مخنيوي لپاره د پاليسو او اقداماتو په اړه ولس ته معلومات ورکړي.
3. د جنايي ضد ارګانونو د وړتياوو د لوړولو او هغوی ته د امتيازاتو د زياتولو تر څنګ دې په دې ارګانونو کې فساد په کلکه وڅارل شي او په فساد کې د دوی ښکېلتيا بايد صفر شي.
4. حکومت دې دغه راز هغه هلې ځلې چې د سړي‌تښتوونکو باندونو او ډلو پر وړاندې يې کوي منسجمې ، اغېزناکې او له خلکو سره يې شريکې کړي تر څو په دې برخه کې د خلکو تللی باور راژوندی شي. دغه راز دې د جنائي مجرمينو په تړاو د حکومت او قضائي ارګانونو دريځ سخت شي او په علني او شفافو محاکمو کې د دوی جزاوې تعقيب شي تر څو په شعوري ډول څوک جرمونو ته زړه ښه نه کړي.

په درنښت